## سوله یا د مسلمانانو ورکه شوې متاع

### مرحوم مولوی عبدالملک حمیدی

څومره خوږ او مقدس لفظ دی چې ورسره انسانیت، اخلاق، آرامتیا، سوکالي، ترقي او پرمختګ، مینه، اوورورولي، محبت او اخوت، ځان تیروتنه، وفا، اخلاص او د دنیا او آخیرت خیر او نیکمرغی نغښتې او اخښل شوي دی، الله تعالی فرمایي: ﴿ وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٞ ﴾ النساء: ۱۲۸

**ژباړه**: او سوله خیر او ښیرازه ده.

که د سولې او پخلاینې تاریخي پس منظرته ځیر شو، هلته به وګورو چې د اسلام ستر لارښود، حضرت محمدمصطفیﷺ چې د سولې او مسالمت ژوندانه ته څومره د اهمیت په سترګه کتل او د دارنګه تعهداتو او معاهداتو منل څومره ګران ؤ چې ټول مواد به یې ظاهراً د مسلمانانو په زیان باندې ښکاریدل او رسول الله به څومره ګذشت او سرښندنه کوله، دا مواد به یې سره ددې چې زیاتو صحابه کرامو به دارنګه معاهدات منل د مسلمانانو د ضعف او کمزورۍ لامل بلل، خو رسول الله به دا چې ورسره الهي وحي تائیدونکی او لارښوونکي وه، دا معاهدات منل، د کفارو او مشرکینو په خوښه به یې ورسره لا سلیکول، هغه ؤ چې الله پاک پکې زیات فتوحات او انتصارات د اسلام او مسلمانانو لپاره په راتلونکي کې په برخه کړل.

ددې نه را جوتیږي چې اسلام د خشونت، تاوتریخوالي، ظلم، تیری، او عهد ماتولو دین ندی، بلکه دا دین د رحمت او عطوفت او د هر چا سره د انسانیت او کرامت په سیوری کې د ژوند کولو دین دی.

الله پاک د خپل نازنین استازی غوره اخلاقي معیار چې نرمي او محبت دی، دا رنګه یادوي: ﴿ فَبِمَا رَحۡمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُمۡۖ وَلَوۡ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلۡقَلۡبِ لَٱنفَضُّواْ مِنۡ حَوۡلِكَۖ فَٱعۡفُ عَنۡهُمۡ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ وَشَاوِرۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِۖ فَإِذَا عَزَمۡتَ فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَوَكِّلِينَ ﴾ آل عمران: ۱۵۹

**ژباړه**: او ته ای محمدهﷺ د الله تعالی په فضل سره دوی ته نرم زړی او رحیم شوی، خوکه چیرې ته سخت زړی او تند او تریو وای نو خامخا به دوی ټول ستاله ماحوله لیرې شوي ؤ، نو دوی ته عفو او بښنه وکړه او د الله تعالی نه ورته د ګناهونو بښلو دعا وکړه، او په کارونوکې ورسره سلا مشوره وکړه، او کله چې د کوم کار هوډ او فیصله وکړې، نو په الله باندې توکل کوه او هغه عملي کړه، په یقین سره چې الله تعالی توکل کوونکی انسانان خوښوي.

دلته غواړم د حدیبې سولې موادوته اشاره وکړم:

**لومړۍ ماده**: پیغمبر سره له ملګرو به سږل کال بیرته ستنیږي او مکې ته به نه داخلیږي، خو راتلونکی کال کولای شي مکې ته ولاړ شي او درې ورځې هلته پاته شي او کولای شي له ځان سره سلاح ولری خو توری یې باید په پوښونوکې بندې وي او قریش په دوی تعرض نشی کولی.

**دوه همه ماده**: دواړو طرفونو ترمنځ به اوربند تر لسو کلونو پورې برقراره وي او خلک د دواړه لورونه به په امان کې وي.

**دریمه ماده**: که څوک له دواړو طرفونو نه وغواړي د یو بل په عهد او پیمان کې داخل شی نو دغه ورتګ یې رسمیت لری او هره طائفه یا قبیله چې د یوې جنګي ډلې سره یوځای شي، نو دا کارېې هم رسمیت لري او د هماغه ډلې له جملې نه حسابیږي او په دا رنګه ډلو باندې تیري کول، د قرارداد له مادو څخه سرغړونه بلل کیږي.

**څلورمه ماده**: که څوک له قریشونه د دوي له اجازې پرته د مسلمانانو ډلې ته ورشي، نو باید بیرته قریشوته ورتسلیم شي، خوکه چیرې د محمدﷺ له یارانو نه قریشوته پناه ورورې، نو قریشیان مجبورندي چې هغه بیرته ورستون کړي.

ترتولو مهمه خوداده چې قریشو کله ولیدل چې د تو افقنامی متن حضرت علی(رض) لیکلی او پکې بسم الله الرحمن الرحیم وینی، نو سمدلاسه مخالفت کوي او د رحمن لفظ نه منی، بیا کله چې د محمدرسول الله لفظ وینی، مخالفت کوي، او وایی که چېرې موږ د خدای رسول منلی، نو ولی به مو مخالفت کاوه، د رسول الله ټکي مه پکې لیکي، هغه ؤ چې بیا یوازې داسې لیکي چې: محمد دعبدالله زوی او قریشو ترمنځ دا تړون لاسلیک کیږي.

**د حدیبې سولې لاسته راوړنې**:

که چیرې د حدیبې سولې تړون ته ژوره کتنه وکړو، نو دارا ته جوتیږي چې په حقیقت کې دغه سوله د یوې فتحې او بریا زیږنده وه هغه دا چې په لومړي قدم کې خو قریشو مسلمانان او ددوي کمزورې ډله په رسمیت وپیژندله، هغه چې فکرېې کاوه په ډیرو لږو هڅو سره به مسلمانان د نړۍ له نقشې نه ورک کړي.

ددغه تړون تنظیم په اصل کې ددوي اعتراف را څرګند کړ چې مسلمانان یو قوت دی او قریش نشی کولی چې په مقابل کې یې و دریږي او مقاومت وکړي.

دغه تړون د دریم بند نه دا څرګندیږي چې قریش یوازې د قدرت او سلطې په فکر کې ؤ نه داچې دیني زعامت او مشری ولري ځکه ددغه بند په اساس که چیرې ټول عرب مسلمانیدل، نو قریشو پورې یې هیڅ تړاو نه درلود، او قریشو نشو کولای چې په دې برخه کې ډیر کم دخالت ولري، نو آیا دا کار په خپل ذات کې د قریشو لپاره لوی شکست او د مسلمانانو لپاره لویه کامیابی نده؟

د مسلمانانو او ددوي د دښمنانو ترمنځ چې کومې جګړې شوي، نو موخه ورڅخه د مالوماتو مصادره او د انسانانو وژل او له منځه وړل نه ؤ، بلکه د مسلمانانو موخه ددغو جنګونو نه داوه چې خلکو کامله آزادي ورکړل شي چې په پوره آزادی کې خپل دین او عقیده غوره کړي.﴿ ... فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ... ﴾ الكهف: ۲۹

**ژباړه**: هر څوک چې غواړي ایمان راوړي او هر څوک چې غواړي نو کفر د غوره کړي.

دا هدف د جنګونه او وینې توئېدنې له لارې لاسته نشوای راتلای، په هماغه اندازه چې د عقیدې د آزادی تر سیورې لاندې لاسته راغی، ځکه ددغه سولې نه مخکې د مسلمانانو تعداد یوازې درې زره کسان ؤ، خو دوه کاله وروسته یعې د مکې فتحې پرځای ددوي شمیر لس زرو کسانو ته ورسید.

ددغه تړون دوه هم بند، همدارنګه د لوېې فتحې او بریا یوه برخه وه، ځکه مسلمانان هیڅکله د جنګ پیلونکې نه ؤ، بلکه دایماً قریشو به جنګ پیلاوه د مسلمانانو هدف د قریشو په وړاندې جنګیدلو نه داؤ چې قریش لږ مخکې ته را تیت او دخپل غرور نه لاس واخلي او داخدای په وړاندې د تمرد او سرکشی نه ډډه وکړي او د مسلمانانو سره دعدل او مساوات په چوکاټ کې ژوند وکړي او هربو په خپل عمل وکړي، او داچې تر لسو کلو پورې به دا قرارداد لاسلیک کیږي. دا د مسلمانانو عهد او تړون باندې وفا او عمل کول او صبر او حوصله او دا چې ددغه کار تر شا لویه فتحې پټې دی، ثابتوي او دجنګ ډلو د کمزوری او سستی منځ ته راوړی. چې همداسې وشول.

ددغه تړون درې مادې د مسلمانانو په ګټه او څلورمه ماده یې که څه هم ظاهراً د مسلمانانو په ضرر او دقریشو لپاره د امتیاز په ورکولو ښکاریده خو په و اقعت کې هغه هم د مسلمانانو په ګټه تمامه شوه، ځکه د مدینې هیڅ کس نه تښتیده مګر داچې مرتدکیده به او مسلمانانو د مرتدانو ساتلو ته هیڅ اړتیا نه لرله، ځکه د مرتداتو لیری کیدل د مسلمانانو له ډلو ډیر غوره دی تر دې نه چې په دوي کې میشت وي.

دا چې رسول الله دا شرط قبول کړ چې هرمسلمان چې د قریشو ډلې ته ورغي، نو بیرته د مجبوریږي نه چې را و اپس شي، دا په حقیقت کې د رسول الله په خاطر جمعی او اطمینان باندې دلالت کوي، چې د اسلام دین حق دی.

نو پدې وجه رسول الله د سولې د ذکر شوو مادو منلو څخه هیڅ تشویش نه درلود او هغه یې لاسلیک کړه چې پایله یې الله پاک فتح عظیم ورپه برخه کړه.

د مسلمانانو ترمنځ د ورورولی تړون:

د اسلام نازنین پیغمبر حضرت محمد مصطفیﷺ چې کله له مکې مکرمې نه د مدینې منورې په لور هجرت وکړ، نو دجومات جوړلو چې د مسلمانانو دودوستی او ټولنې لوی مرکز بلل کېده، نه وروسته یې ډیر مهم کاروکړ چې د اسلام تاریخ ورباندې ویاړي او دهمدغه لوی ابتکار او معجز انه عملکرد له امله نن ددنیا ټول مسلمانان پدغه کلمه سره چې﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾ په یقین سره چې ټول مؤمنان سره ورورنه دی، سره راټولیږي. سره یوزړه او یوه خوله دی، او دحوادثو او کړکیچونو، ستونزو پر مهال هم دالله کتاب او دپیغمبر سنتوته مراجعه کوي:﴿ فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِى شَىْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴾ النساء: ۵۹

**ژباړه**: کله موچې په کوم څه کې اختلاف او تنازع رامنځته شوه، نو دهغه د حل او بریا لپاره یوازنی لارداده چې دالله کتاب او د پیغمبر لارې ته مراجعه وکړی، که چیرې په الله او دهغه په رسول او د آخرت په ورځ ایمان لرئ نو دا کار ډیر غوره او د بریا په خوځښت دی.

هغه عظیم الشان تاریخي عمل چې رسول الله تر سره کړ، هغه د مهاجرینو او انصارو ترمنځ د ورورۍ تړون ؤ.

امام ابن قیم﷫ لیکی:

رسول الله د حضرت انس بن مالک﷛ په کورکې تشریف درلود چې د مهاجر انو او انصارو ترمنځ یې د ورورۍ تړون رامنځته کړ، پدغه تړون کې ټول(۹۰) کسانو ګډون درلود چې(۴۵) کسه د مهاجرینو او(۴۵) کسه د انصارو له ډلې نه ؤ، ددغه تړون په اساس ټول یوله بل سره ورونه او یو شان شول، آن تر دې چې یوله بله یې میراث وړو، او دا د میراث وړلو لړی د بدر غزا پورې جریان درلود، ترڅو سوره انفال دغه آیت را نازل شو:﴿ وَأُو۟لُوا۟ ٱلْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِى كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ الأنفال: ۷۵

چې ددغه ایت په را نازلیدو سره د ورورولي تړون نه نسبی خپلو انو پورې موکول شوه:

ددغه تړون موخه داوه چې د جاهلیت دورې تعصبات له منځه لاړشی او مسلمانان یوازې د خدای په خاطر خپل قهر او غیرت په کاروا چوي او د رنګ، نسب او نژاد امتیازات له منځه ولاړشي او یوازې خو انمردی او تقوا د لوړتیا او برتری مغیارو ګرزول شي او بس.

پیغمبرﷺ دا پیمان عملاً پکار اچولی ؤ، دا تړون یوازې د خولې شعار نه ؤ، بلکه دغه تړون، مسلمانان ځان سرښندنې او قربانی ته تیارول.

داتړون په ټولنه باندې یوازې یو عادی اثرکوونکي تړون نه ؤ، بلکه دغه تړون د مسلمانان عواطف او احساسات دومره لوړ معیارته بیولی ؤ چې په وړاندې یې دبل هرڅه نه تیریدل، او دهمدغه مبارک تړون برکت ؤ چې د مدینې منورې جدید التأ سلسیه او نوی ټولنه یې په یوه بی مثاله او بې بدیله ټولنې باندې بدله کړه.

امام بخاری رحمه الله لیکی:

(( کله چې مهاجرین مدینې ته راغلل، نو رسول الله د حضرت عبدالرحمن او سعد بن الربیع رضي الله عنه ترمنځ د ورورۍ تړون وکړ، سعد عبدالرحمن ته وویل: زه تر ټولو انصارو زیات مال او شتمني لرم، نو نیمایی مال می ستا، دوی ښځې لرم وګوره هره یوه د چې پکې خوښېږي، زه یې طلاقوم او تاته یی نکاح کوم، عبدالرحمن وویل: خدای د په مال او اهل کې درته برکت واچوي، بازار چېری دي؟ نو سعد هغه ته د قنیقاع بازار وروښود، عبدالرحمن د بازاره له ځان سره یوڅه خوراکه او غوړي راوړل او د سعد کورته یې له ځان سره یووړل او هره ورځ به یې کارکاوه، بله ورځ پداسې حال کې رسول الله ولید چې خوشبويې یی وهلې او څېره یې ډېره خوشحاله مالومیده، رسول الله ورڅخه وپوښتل، څه دی؟ هغه وویل: ای دالله رسوله! واده مې وکړ، رسول الله وپوښتل څومره مهر د ورکړ؟ هغه وویل د یوې نواه طلا په اندازه)) ( چې هغه معادل د پنځو درهمو یا ددنیار څلورمې سره ده) صحیح بخاری د حدیث شمیره ۳۷۸،۳۷۸۱

(( حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت کوي وایی: انصار د رسول الله حضورته راغلل او ورته یې عرض کړ، ای د الله رسوله! زمونږ د خرما باغونه زمونږ او مهاجرو ورونو ترمنځ وویشه، رسول الله و فرمایل: ښه ده انصارو مهاجروته وویل: تاسې زمونږ د خرما په باغونو کې کارکوئ، نو مونږ به تاسې په میوه کې سره شریک کړو، نو پدې سره ټولو وویل : وامو ورېدل او اطاعت کو. صحیح بخاری د حدیث شمیره ۳۷۸،۳۷۸۱

دا ټول هغه څه ؤ چې د انصارو مسلمانانو علاقه او رغبت به یې د خپلو مهاجرو ورونو په وړاندې ښکاره کاوه چې ورڅخه یوازې، مینه، محبت، اخلاق، او ځان تېریدنه او لورینه ښکاري، او په مقابل کې یې د مهاجرو عملکرد هم قدرداني او مهرباني وه، داسې چې د انصارو له ایثار،دوستۍ صفا او صممیت نه یې غلطه استفاده ونکړه او داسې رویه یې وره کړه چې یوازې ددوي ترمنځ ورورولي او دوستي یې زیاتوله او بس. په و اقعیت کې د رسول الله دا د ورورولۍ پیمان چې د مهاجرینو او انصارو ترمنځ یې قایم کړ، ددوستۍ، محبت او ورورولۍ داسې پیغام ؤ چې زیاتې ستونزې او ناخوالی یې حل کړې چې پرته له دا تړون نه بل هیڅ کاردومره مؤثر او جالب نه ؤ.

الله پاک جل جلاله فرمایي: ﴿ إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٞ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَ أَخَوَيۡكُمۡۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴾ الحجرات: ۱۰

**ژباړه**: یوازې داده چې مومنان ټول سره ورونه دي نو تاسو د ورونو ترمنځ سوله او پخلاینه راولي او پدغه کارکې د الله تعالی نه ووېرېږي ترڅو نجات و مومی او دربانديې رحم وکړل شي.

**هوکې**:

سوله د مسلمانانو ورکه شوې متاع ده نو هر وخت او هر ځای چې وربانديې برې ومومی، ورسره مخامخ شي،زمینه ورته بر ابره شی ضرورت ورته پیښ شي، نو باید په نواجذو غاښونو سره یې را کلکه کړی او فرصتونه له لاسه ورنکړي.

زمونږ ګران افغانستان چې تاریخی اوږدو پړاوونو کې یې زیاتې ستونزې وګاللې، ډېرې تحمیلی تپل شوي او غیر ارادی جګړو او پردو غلیاتو اوبرګ سترګو استعمارګر انو د چور، چپاول، یرغل او وحشت سره مخامخ شوي...

د ژوند په هره برخه( سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، ټولنیز، تاریخي، دیني او کلتوري) کې یې ډېرتاو انونه ګاللي، هرڅه خدای ورکړي، ملکیت یې له لاسه ورکړي، شهید، یتیم، معلول، معیوب، بېوزله، بې سرپرسته، کونډې او مظلومان، په پردیو ملکونوکې پر اته بې سرپرسته دربدرکډوال او... یې ر اته په میدان پرېښې دي.

دا خاوره د تاریخ په اوږدو کې د انګریز انو، روسانو، لرو او بردې، ګاونډیو او د منطقې او سیمې چپاولګرو او ښکیلاکګرو تروحشیانه او شرموونکی تاړاک او یرغل ښکار شوې، خوله نیکه مرغه ددې خاورې اصیلو بچیانو د ډېرو مادي او جنګي کمو امکاناتو په لرلو خود ایمان وطن دوستۍ او آزادی په مینه مستو شاه زلمیو په قرباني او سرښندنې سره یې هر ښکیلاکګر ته پخپل زمان کې تاریخي ماتې ورکړې.

څه شو انګریزی استعمار... د ملامشک عالم او غازی محمد جانخان پشان سپېړو او ببرسرو په دین او وطن مینو افغانانو ورته تاریخي شکست ورکړی او انګریزی استعمار یې له بنیاداو ریښو سره ددغه ملک نه ورک کړ،

بیا کله چې روسانو سترګې را برګې کړې او دافغانستان د اشغال خوبونه یې ولیدل، خپل یو څو داخلي غلامان یې ورسره را پیداکړل او وزن، زر او زمین تر شعار لاندې یعنې(کورکالی او ډوډۍ) ورکول دروغ شعارونه به یې زمزمه کول او عوام الناس ته به یې فریب ورباندې ورکاوه.

خو دا ناچل او دروغېن ظلمونه او چلونه ونه چلیدل، بلکه افغانانو په یوه غږ او یوه شعار باندې الله اکبر او جهاد حق دی ناری پورته او روسانو او بالشویکانو تزاریانو ته یې داسې تاریخي ماته ورکړه چې آخرین عسکرېې کله چې زمونږ هیواد پرېږدې دا تاریخي وینا کوې: افغانستان ته زمونږ ننوتل لویه اشتباه وه او باید نور ښکیلاکګر زمونږ له ماتې څخه عبرت واخلي.

د اسلام او وطن دښمنان کرار نشول، بلکه د سیاسی، مذهبي، قومي، تنظیمي، منطقوي، ژبني، او نورو رنګارنګ اختلافاتو په اچولو سره یې غوښتل چې دا لوی څواک او دغه غیورواحد ملت سره ټوټې کړي.

کله یې دسني او شیعه اختلافاتو تازه کولو ته لمن ووهله، کله یې هم ژبني او قومي( پښتو فارسي ازبکي هزارګي ... )توپیرونه را ژوندي کول، همدارنګه مذهبي اختلافات یې د اهل حدیث، تصوف، سلف او خلف په نامه را وپارول، ترڅو دغه ملت د مذهبي پلوه پخپلوکې سره اخته کړي او کله یې هم د مسلمان او کافر، مباه الدم او واجب القتل، جهاد، ترور، وحشت او... ترنامه لاندې پدغه ملک کې یو له بله سره اخته کړل او هرجنایت به یې د اسلام او اسلام ته په خدمت کولو سره تعبیر اوه چې د ډیر تأسف له امله دغه بدبختي لاتر اوسه دوام لري او هره ورځ زموږ د بې ګناه انسانانو افغانانو وینې بهیږي، څوک په چا په اوسپنیو عملیاتوکې شهیدان شول، د چاسرونه پرې شول، څوک په بمونو او انفجارونوکې ټوټې ټوټې شول...

ولې د خدای په لحاظ، آیا مسلمانان نه یو، آیا افغانان نه یو، آیا ټول ددغه وطن اوسیدونکي نه یو، آیا ټول پدغه ملک کې حق نلرو؟

د خدای په لحاظ دغه حالت به ترکومه دوام کوي؟ ولې خپل ژوند، خپل ملک، خپله راتلونکي پخپله بربا دوو؟

آه ربه! ای د جهانونو مالکه؟!

د انسانانو زړونه خوستا په بلاکیف کې دي، ته یې سره نرم کړې، یا الله ته خوېې پخپلوکې سره وروڼه کړې، ته خوېې اختلافات له لیکووباسې، یا الله! لکه چې د مهاجرو او انصاروترمنځ د ورورۍ راوسته، نن خود افغانانو ترمنځ دغه د اختلافا او بې اتفاقۍ اورله منځه یوسې، او پخپلوکې یې سره وروڼه کړې، یا الله نورخوته راباندې رحم وکړې.

موږ ته زموږ د شومو اعمالو اوکړنو په خاطرنوره جزامه راکوې، یا الله لکه د اوس او خزرج فبیلوترمنځ چې د کلونوکلونو دښمنۍ وې او دخپل نازنین رسول په واسطه د هغه ټولې لیرې او سره د وروڼه کړل، نن افغانان همداسې غیبي لاس او غیبي مرستې ته اړتیا لري.

یا الله نورخو مود پردیو د غلامۍ او احتیاج نه خلاص کړې، نورخودکفارو منحوس لاسونه او ناولي قدمونه زموږ د پاکې خاورې نه ورک کړې.

هوکې!

سوله د افغانانو ورکه شوې متاع ده، نن یې وخت را رسیدلی دی، نن مو دغه خپل ورک شوی مال پیداکړی او فرصتونه را ته بر ابر شوی، راځئ د خدای په خاطر، د یتیمانو اوکونډو د اوښکو په خاطر، نورنو په قرآن منګولې ولګوو او د :﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ﴾ آل عمران: ۱۰۳

یعنې ټول د الله په رسۍ او دین باندې منګولې ولګوي او اختلاف مکوئ، آیت شریف شعاروګرزو، همدارنګه د الله تعالی دغه وعید ته متوجه شو چې فرمایي:﴿ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ﴾ الأنفال: ٤٦

یعنې منازعه او جنجال اختلاف مکوئ چې تاسې به ټوټې ټوټې شئ او ستاسو قوت به ختم شي.

همدارنګه د الله تعالی دغه ارشاد، ته هم پاملرنه وکړو چې موږ ته لارښوونه کوي: او موږ دهغه په نعمتونو باندې شکرکولو ته را هڅوي او فرمايي:﴿ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴾ آل عمران: ۱۰۳

یعنې او د الله تعالی نعمتونه یادکړي، کله چې تاسې پخپل منځ کې یو بل سره دښمنان وې نو الله تعالی تاسې ته نجات درکړ او دهغه په فضل سره وروڼه وګرزیدې، او تاسې د اورپه غاړه پر اته وې، نو الله پاک تاسې ته نجات درکړ، همدارنګه الله پاک تاسې ته خپل د قدرت نښې بیانوي ترڅو تاسې لار موندونکې شي.

راځئ دا آخرین چانس دی، یو له بله سره د ورورۍ، مینې او محبت لاسونه ورکړو او دیوه مسلمان افغان په توګه یو بل ته د مینې او خلوص غیږ پر انیزو.

(الهم اصلح ذات بيننا والف بين قلوبنا واجمعنا ولا تفرقنا)

آمين يارب العالمين